# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد	بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم	از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com	afgazad@gmail.com

| جانبازان | Martyrs |
|---|---|

مینا
ژباړه: فرهاد ویاړ

د هیواد د نامتو مبارزې، شهید مینا د شهادت د ۲۳ کلیزې په ویاړ



## هیڅکله نه ستنیږم

زه هغه ښځه یم چې نوره پاڅیدلې یم
د خپلو ماشومانو د سوځیدلو جسدونو له ایرو
راپورته شوی او توپان شوی یم
د خپلو ورونو د وینو له ویالو مې سر راپورته کړی
د خپل ملت د قهر له توپانه مې ځواک موندلی
د خپل هیواد د سوځیدلی دیوالونو او کلیو په لیدو مې
له دښمن سره کرکه پیدا کړی
نور نو ما بیوزله او بې وسه مه بوله، ای زما هیوادواله

زه هغه ښځه یم چې نوره پاڅیدلی یم
خپله لاره مې موندلې،
هیڅکله نه ستنیږم.

ما نور هغه ځنځیرونه له پښو شلولي
ما د ناخبرې تږلي ورونه پرانیستي
ما له ټولو زرینو بنګړو سره وداع کړې
ای هیوادواله، ای وروره
نوره زه هغه نه یم چې ومه
زه هغه ښځه یم چې نوره پاڅیدلی یم
خپله لاره مې موندلې،
هیڅکله نه ستنیږم.

په خپلو ځیرکو سترګو مې
د هیواد په توره شپه کې ټول شیان لیدلي
د بورو میندو د نیمې شپې کوکارو مې په غوږونو کې هنګامې کړي
ما پښنې بیلې، آواره او بې جونګړه ماشومان لیدلي
ما هغه ناوې لیدلي چې پر لاسونو یې نکرزې،
د کونډتوب توري جامې اغوستي

ما د زندانونو لوړ دیوالونه لیدلي
چې آزادي یې په خپلې ورې خیټې کې تیره کړې
زه په سرښیندنو، مقاومتونو او حماسو کې بیا زیږیدلی یم
ما په وروستیو سلګیو کې
د ویني په څپو کې
او د بري او بریا په منځ کې
د آزادۍ سرود زده کړی
نور نو ما بیوزله او بې وسه مه بوله

ای هیوادواله، ای وروره!

زه ستا تر څنګ او له تا سره
د هیواد د ژغورنې لپاره همغږې او همنوا شوې یم

غړ مي د زرهاو پاڅيدلي ميرمنو له فرياد سره يوځای شوی

موټي مي د زرهاو هيوادولو له لاسونو سره غوټه شوی

ما ستا تر څنګ او د خپل ملت لپاره قدم ايښودی

تر څو د ژوند ټول کړاونه او د بردګۍ ټول رنځونه سره مات کړو

ای هيوادواله، ای وروره!

زه نوره هغه نه يم چي ومه

زه هغه ښځه يم چي نوره پاڅيدلی يم

خپله لاره مي موندلی،

هيڅکله نه ستنيږم.